UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو رپوټ - په افغانستان کې د توقیف شویو کسانو شکنجه ادامه لري**

**ژنیو/ کابل، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۲۴مه -** د ملګرو ملتونو رپوټ چې نن خپور شو، موندلي چې په حکومتي توقیف ځایونو کې د جګړو په تړاو د توقیف شویو کسانو شکنجه او ورسره ناسم چلند لا اوس هم ادامه لري. رپوټ دا هم وايي چې افغان حکومت د دې عمل بشپړ له منځه وړلو ته ژمن دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي، تداميچي یاماموتو وویل: " د بندیانو شکنجه او ورسره د ناسم چلند ادامه د جدي اندیښنې وړ ده، خو د دې موضوع په تړاو د حکومت ریښتیني ژمنتیا او هڅې هم درک کوو."

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر دغه رپوټ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د ملی امنیت، ملي پولیسو او نورو افغان دفاعي ځواکونو له لوري د اداره کیدونکو ۶۲ توقیف ځایونو کې د ۲۰۱۵ کال د جنوري د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۱۶ کال د ډسامبر تر ۳۱ نیټې پورې له جګړو سره تړلو ۴۶۹ بندیانو سره د مرکو پربنسټ چمتو شوی دی.

څه باندې دریمې برخې هغو کسانو چې ورسره مرکې شوې د شکنجې او ورسره ناسم چلند با اعتباره مدارک ورکړي. د نورو موندنو تر څنګ ۴۵ سلنه کسان چې د پولیسو لخوا نیول شوي ویلي چې شکنجه شوي او یا هم ورسره ناسم چلند شوی دی، چې له ۲۰۱۰ میلادي راهیسې چې یوناما په دې برخه کې خپل روان نظارت پیل کړی تر ټولو لوړه کچه په ګوته کوي. رپوټ موندلي ۲۶ سلنه هغه کسان چې یوناما ورسره مرکې کړي او د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې ساتل کیږي ویلي چې شکنجه شوي او یا هم ورسره ناسم چلند شوی. ۸۵ توقیف شوو ماشومانو چې د افغان امنیتي ځواکونو په توقیف ځایونو کې ساتل کیږي او مرکه ورسره شوې ۳۸ یې د شکنجې او یا ناسم چلند با اعتباره شواهد ورکړي.

په ټوله کې اکثریت توقیف شویو کسانو ویلي چې شکنجه شوي څو په زوره اقرار وکړي او کله یې چې اقرار کړی شکنجه او ناسم چلند هم دریدلی دی. رپوټ په ډاګه کوي چې: ګڼ شمیر هغه کسان چې مرکې ورسره شوې ویلي هغه څه چې په اقرار کې لیکل شوي او دوی ورباندې لاسلیک کړی یا یې ګوتې پرې لګولي دي، دوی ورباندې نه دي پوهیدلي او یا هم نه دي توانیدلي چې ویې لولي.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنر، زید رعد الحسین وویل: " هغه شان چې دې مهم رپوټ روښانه کړې، شکنجه امن نه زیاتوي او هغه اقرار چې د شکنجې په نتیجه کې اخیستل شوی وي په بشپړه توګه د اعتبار وړ نه دی. خلک ښایي د درد پای ته رسیدو لپاره هر څه ووایي. نوموړي زیاته کړه: " دا ډیره مهمه ده چې په افغانستان کې د توقیف ځایونو او د شکنجې د ادعاوو په سمه توګه نظارت ترسره شي او یقیني کړل شي هغه کسان چې د دې کرغیړن جرم لپاره ګرم وپیژندل شي محکمې ته راکاږل کیږي. د دې ډول اعمالو د عدلي تعقیب یقیني کول، په راتلونکې کې د سرغړونو د مخنیوي لپاره قوي پیغام لیږدوي. "

رپوټ د حکومت له لوري د شکنجې د ختمولو په موخه د خپل ملي پلان چې د ۲۰۱۵ کال په فبروري کې جوړ شو، د پلي کولو، په ځانګړې توګه د قوانینو د تصویب، پالیسي ګانو د جوړولو، په امنیتي او د قانون د تنفیذ په بنسټونو کې د بشري حقونو د نظارت په موخه د میکانیزمونو د رامنځ ته کولو او ودې په موخه، د هڅو هر کلی کوي.

رپوټ وايي که چیرې پشنهاد شوي قانوني بدلونونه تصویب شي، ښایي افغانستان د نورو تر څنګ په رسمي توګه د شکنجې په خلاف د ملګرو ملتونو کمیټه وپیژني چې په هیواد کې له توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړي او تر څنګ یې د یوې خپلواکې اداري رامنځ ته کیدل په پام کې ونیسي چې له شکنجې څخه د مخنیوي په تړاو د ملګرو ملتونو د فرعي کمیټو په ملاتړ له توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړي.

رپوټ د یوناما له لوري د افغانستان حکومت ته ځینې کلیدي سپارښتنې هم رانغاړي:

- **موافقه:** د شکنجې مخنیوی باید په کلکه عملي شي او د بندیانو شکنجه او ورسره ناسم چلند باید هر څه زر تر زره ودرول شي.
- **حساب ورکړه:** د افغانستان په ټولو توقیف ځایونو کې باید هر څه زر تر زره د شکنجې او ناسم چلند د رپوټونو خپلواکه، بې پرې او هر اړخیزه پلټنه وشي. ټول هغه کسان چې د شکنجې مسوول ګڼل کیږي باید عدلي تعقیب یې وشي او له کورنیو او نړیوالو قوانینو سره سم سزا ورکړل شي.

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

- **بیرنی حل لاره:** د شکنجي قربانیان باید د ګاللي زیان د جبران لپاره اغیزناک کورني قانوني حل لارې ته لاس رسی ولري.
- **مخنیوی:** حکومت باید د شکنجي د اختیاری پروتوکول په پام کي نیولو سره د مخنیوي ملي میکانیزم رامنځ ته کړي.
- **روزنه او د ظرفیت لوړول:** د قانون متنفذین او قضایي چارواکي باید د اړینو تخنیکي مهارتونو لپاره وروزل شي څو د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره سم توقیف ترسره کړي او له جګړې سره تړلو جرمونو پلټني او عدلي تعقیب وکړي.

* * *

په افغان توقیف ځایونو کي د جګړې اړوند بندیانو سره د چلند بشپړ راپور دلته دلاسرسي وړ دی:

https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چارې وړاندې کوي. "د ښه نیت چارې" هغه ډیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت دارۍ د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو څارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالۍ ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږۍ پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.*